۱۶ جوزا ۱۳۸۱

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون


# جنسیتي برابري او ښځو سره د تبعیض مخنیوی


**راټولونکې:**

**لطیفه سلطاني***


**۱۳۹۵ ژمی**



* د ښځو د حقونو د برخې د ملاتړ او پراختیا همغږې کوونکې

## سریزه

بشر د خپل ژوند په اوږدو کې د نابرابرۍ بېلابېلې بڼې تجربه کړې دي. مرييتوب د تبعيض يو له رائجو مصاديقو څخه ؤ، چې د انسانانو ډلې د توکو په څېر د نورو په واک کې وې او يو انسان د بل انسان څښتن و. د نسب، نژاد او قوميت پر بنسټ تبعيض د تبعيض بله بڼه وه چې پر بنسټ يې يوه ډله له بلې ډلې پورته ګڼل کېده. د شتو او ثروت پر بنسټ تبعيض هم دود و او بډايان به پر لاس لاندې کسانو پورته ګڼل کېدل.

خو جنسيتي تبعيض د تبعيض تر ټولو پخوانۍ او تر ټولو ډېره دود شوې بڼه ګڼل کيږي. په تاريخ کې او په بېلابېلو قومونو، ملتونو، ډلو او بېلابېلو هيوادونو کې ښځو عموماً د نرانو په نسبت ټيټ ځای ځايګی درلود.

دا مسله د دې لامل شوې چې ښځې سره له دې چې په کار او زحمت کې له نرانو کمې نه وې، له کمو امکاناتو څخه ګټه واخلي او له خپلو حقونو محرومې پاتې شي.

له بده مرغه دغه پخوانی تاريخي دود د نن ورځې انسان ته ميراث پاتې دی او د نړۍ په بېلابېلو برخو کې لا هم ليدل کيږي چې له ښځو سره تبعيض کيږي. دا مسله په ځانګړي ډول په هغو هيوادونو کې چې د پراختيا په ټيټه کچه کې دي، ډېره ده. ښځې له خصوصي حوزې او کورنۍ نيولې تر عمومي حوزو، نه دي توانېدلې چې له نرانو سره برابر رول ولري. له ښځو سره تبعيض د دې لامل شوی چې په ځينو چارو کې لکه اقتصاد او سياست کې د ښځو ګډون بد او ناوړه وګڼل شي او مقابله ورسره وشي. په دې ټولنو کې عمومي حوزه د نارينه وو اړوند ګڼل کيږي او له ښځو يواځې غوښتل کيږي چې د ټيټې کچې په کارونو بوختې و اوسي او عمومي حوزې ته له داخلېدو ډډه وکړي.

د افغانستان ښځې له پخوا څخه تر نن ورځې پرله پسې د دې له تبعيضه ډکو محدوديتونو قرباني دي. په نوي دور کې د افغانستان په تاريخ کې د چټکو بدلونو سره لا هم فرهنګي-دوديزو سختيو په ټولنه کې د ښځو د حضور لپاره کړۍ تنګه کړې ده. له بل پلوه، د افغانستان ښځې نن ورځ په دې هڅه کې دي، چې د منظمو فعاليتونو په ترسره کولو، د خپلو غوښتنو د تعقيب او د خپلو حقونو د احقاق لپاره کار وکړي. په بل عبارت، د طالبانو د رژيم له سقوط وروسته په نوې سياسي-ټولنيزه فضا کې، ښځو په لومړي ځل و کولای شول په پراخ او منظم ډول سياسي او ټولنيز فعاليتونه وکړي.

خو بيا هم، ترسره شوې هڅې نه دي توانېدلې چې په افغاني ټولنه کې د ښځې او نر تر منځ ژور فرهنګي او دوديز درز له منځه يوسي. په بل عبارت، په هيواد کې سياسي-ټولنيزه ګډوډي او په هيواد کې د نر محوره دودونو بنسټي کېدل د دې لامل شوي چې د طالبانو له سقوط وروسته د ۱۵ کلونو په تېرېدو، د ښځو حد اقل هيلې نه دي پوره شوې او په افغانستان کې د ښځو په سياسي او ټولنيز وضعيت کې د پام وړ ښه والی نه دی راغلی. له دې ور هاخوا ښځې د نرانو په نسبت زياتې ضرر منونکې دي او د امنيتي وضعيت خرابېدو پر ښځو له پخوا ډېره کړۍ

تنګه کړې ده. سره له دې د افغانستان ښځو د جنسیتي نابرابریو د له منځه وړلو لپاره خپلې هڅې رواني ساتلې دي او په دې برخه کې فعالیتونه لا هم دوام لري.

د ښځو یوه تر ټولو مهمه غوښتنه په دولتي ادارو او مدني بنسټونو کې د ښځو پیاوړی حضور او د عمومي چارو په مدیریت کې پیاوړی رول درلودل دي. همدارنګه د فرصتونو او ټولنیزو امکاناتو مساوي توزیع او په تصمیم نیونه او سیاسي فعالیتونو کې د ګډون مساوي حق د بشري حقونو او د ښځو د حقونو د فعالانو له تر ټولو مهمو غوښتنو څخه دي.

د جنسیتي برابرۍ او ښځو سره د تبعیض د مخنیوي لپاره هڅې د تکیې وړ قانوني ملاتړ لري. د افغانستان اساسي قانون په ۲۲ ماده کې ټاکلې چې: «د افغانستان اتباع ښځې او نارینه د قانون پر وړاندې مساوي حقوق او وجایب لري». د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو بین المللي کنوانسیون، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي کنوانسیون چې د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډې تصویب کړی او افغانستان ورسره په ۱۹۸۳ کال کې ملحق شوی، په درېیمه ماده کې تصریح کوي چې: «د دې میثاق غړي دولتونه ژمن دي، چې د ښځو او نرانو د حقونو برابري به له اټکل شویو مدني او سیاسي حقونو په ګټنې سره، په دې میثاق کې تامینوي.»

پر همدې بنسټ، د ښځو د حقونو د احقاق لپاره هڅې په عمل کې ترسره شوې دي. د بېلګې په توګه د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژي چې تر ۱۳۹۱ کال پورې وه پر جنسیتي برابرۍ یې ټاکید کړی و او دا برابري یې په حکومت دارۍ، په امنیتي، او انکشافي برخو کې ګډه او د پام وړ مسله بللې وه. د دې ستراتیژۍ په یوه برخه کې راغلي و چې «د حکومت لیدلوری د سوله خوښې او مترقي ملت درلودل دي، چې ښځې او نران د ژوند په ټولو برخو کې له امنیت، حقونو او مساوي فرصتونو برخه من وي. دا ستراتیژي په ټولو برخو کې د جنډر د مسلې د هر اړخیز ادغام لپاره یو چوکاټ رامنځته کوي، چې په د ټولنیزو او اقتصادي شرایطو په برخه کې او پراختیایي فرصتونو ته د ښځو د لاسرسي په برخه کې د ښځو وضعیت ته رسیدګي وشي.»[1] دا ستراتیژي، د زریزې د پراختیا موخې او د د دوامدارې پراختیا موخې، د جنسیتي برابرۍ ترویج او پراختیا، پاوړي کول یې، په دولتي ادارو کې د جنسیتي نابرابرۍ له منځه وړل او د جنسیت د برابرۍ د ستراتیژۍ تطبیق په ملي او بین المللي کچه د ټولو دولتي ادارو مسولیت ګڼي.

موږ په دې باور یو چې د سختې تاریخي مرحلې څخه د تېرېدو لپاره، چې همدا اوس پکې یو، د افغانستان دولت او ملت باید د جنسیتي برابرۍ مسلې ته د جدي او هر اړخیزې مسلې په سترګه وګوري او له ښځو سره د تبعیض د  ټولو بڼو د له منځه وړلو لپاره خپله ټوله هڅه وکړي. په قطعي توګه، هیواد هغه وخت کولای شي د پراختیا مطلوبې کچې ته ورسیږي چې ښځې پکې له نرانو سره برابرې و ګڼل شي. تبعیض وهلې ټولنه به نه انساني وي او نه به وده وکړي.

د دې لاسوند په دې برخه کې هڅه شوې، چې لومړی د جنسیتي برابرۍ او ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي د مسلې ځای ځایګی د نن ورځې د بشر د حقونو او بیا په افغانستان کې د بشر د حقونو له مخې وڅېړو. په لومړي فصل کې د جنسیت او تبعیض اړوند «کلیات او مفاهیم» بیانیږي. په دویم فصل کې «د بشري حقونو په بین المللي نظام کې جنسیتي برابري او ښځو سره د تبعیض مخنیوی» څېړل کیږي او په درېیم فصل کې به «په افغانستان کې جنسیتي برابري او ښځو سره د تبعیض مخنیوی» بحث شي.

---

۱. د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژي، ۱۳۸۷-۱۳۹۱، ص ۱۶-۱۷

# لومړی فصل:

## کلیات او مفاهیم

### لومړی بحث: د جنس مفهوم (Sex) او جنسیت (Gender)

له بشري حقونو څخه په ګټه اخستنه د ښځې او نر پر برابرۍ باور هغه مهال ترلاسه کیږي چې نران د جنس او جنسیت سم درک ولري. لکه څنګه چې اسناد او شمېرې ښیي، په افغانستان کې په سیاست، اقتصاد، فرهنګ او ټولنه کې د نرانو نقش تر ښځو زیات دی، په داسې حال کې چې د شمېر له پلوه ښځې که له نرانو ډېرې نه وي کمې به هم نه وي. په دې ځای کې د دې نابرابرۍ په لاملونو پسې نه ګرځو چې پیدا یې کړو، بلکې غواړو دا وښیو چې لومړی خو ښځه او نر له فیزیولوژیکي او د خلقت له لحاظه یو بل سره توپیر لري، خو په کرامت او انسانیت کې برابر دي او لازمه ده چې له ټولو بشري حقونو څخه په برابر ډول برخه مند شي.

#### الف ـ د جنس مفهوم

بشر د نورو موجوداتو په څېر په دوو جنسونو مذکر او مونث وېشل شوی دی. د دې لامل فیزیولوژیکي توپیر دی، چې په کرموزومونو کې رامنځته کیږي. د نطفې له انعقاد وروسته، دا چې جنین مذکر وي که مونث، فیزیولوژیکي توپیرونه ښکاره کیږي، جنین د وخت په تېرېدو سره څرګندیږي او نارینه یا زنانه صفات خپلوي. دا مسله کاملاً یو طبیعي انتخاب دی او د یو جنس په لوړېدو یا ټیټیدو دلالت نه شي کولای. په بل عبارت، له جنس څخه مراد همغه فیزیولوژیک ډول او یا د یو شخص فزیکي ځانګړنې دي، لکه اندام، هورمونونه، ژنونه او کروموزومونه، چې د مونث یا مذکر لپاره ځانګړي دي.

#### ب ـ د جنسیت مفهوم (جنډر)

د جنسیت مفهوم له جنس سره بنسټي توپیر لري. تر ټولو مهم توپیر یې په دې کې دی چې جنس فیزیولوژیکي مفهوم دی، خو جنسیت یا جنډر ټولنپیژندي مفهوم دی. مشهور ټولنپوه انتوني ګیدنز وایي چې "جنسیت د صفاتو او چلندونو ټولګه ده چې ښځې او نر ته یې نسبت ورکول کیږي."[۲] ټولنپیژندونکي او څېړونکي معتقد دي چې جنسیت یعنې د هر جنس د مناسبو چلندونو اړوند د ټولنې هیلې. په ټوله کې جنسیت یعنې د ښځو او نرانو تر منځ اکتسابي فرهنګي توپیرونه.

دا موضوع دا ښیي چې خلک په غیر شعوري ډول دا فکر القا کوي چې نجلۍ باید ګلابي کالي واغوندي، روښانه رنګونه غوره کړي یا له نانځکې سره لوبې وکړي، او هلک په بال او موټر مستې وکړي.

په بل عبارت، ټولنه ځینې د چلند بېلګې نجلۍ او هلک ته ور سپاري او له هغوی هیله لري چې د چلند یوه خاصه بڼه غوره کړي. په دې معنا چې ټولنه له دې لارې ښځینه او نارینه نقشونه ور زده کوي. همدې ته د جنسیت مسله وایي. نو ویلای شو چې جنسیت د فرهنګي او اجتماعي عواملو له لارې ټاکل کیږي او د مونث او مذکر هویت د جوړېدو لامل کیږي.

جنس یو طبیعي قانون دی چې د انسان له پیدایښته ورسره ملګری دی او د تغیر وړ نه دی، په داسې حال کې چې بېلابېلې ټولنې کولای شي متفاوت جنسیتي نقش رامنځته کړي او له ښځو او نرانو د ځانګړیو او بېلابېلو چلندونو هیله ولري، دا ډول هیلې کولای شي د ټولنې وضعیت، د ټولنې اقتصادي وضعیت یا لکه د جګړې او قحطۍ او وچکالۍ په څېر بحرانونو ته په کتو، بدلون و مومي.

«جنسیت هغو نقشونو او لیدلوریو ته ویل کیږي چې ټولنه او فرهنګ یې ښځو او نرانو ته ورکوي. دا نقشونه په واقعیت کې د نرانو او ښځو چلند او د هغوی تر منځ اړیکې تعریفوي چې د کورنۍ، دولت، ټولنې، ښوونځیو،

---

۲. ګیدنز، آنتونی، جامعه شناسی، (۸۷۳۱) د نی خپرونه

مذهبي مدرسو، عبادت ځايونو او رسنيو له خوا منځ ته راځي. پر دې بنسټ جنسيت هغه مفهوم دی چې کېدای شي بدلون و مومي.»[۳]

کله چې د بشر په حقونو کې ويل کيږي چې بايد جندر او جنسيتي برابري رعايت شي، منظور يې دا دی چې د ښځې او نر تر منځ په اړيکه کې داسې چلندونه او عملونه ليدل کيږي چې په ښکاره طبيعي او سم دي خو په د ننه کې نابرابري لري. مثلاً دا باور چې ښځه دې يواځې د کور په کارونو بوخته وي. يواځې چای تيار کړي او د نر لپاره مناسبه نه ده چې چای وکړي. د ښځې دنده ده چې تل په کور کې وي او بايد د باندې کار و نه کړي. دا هغه نقش دی چې له سلګونو او شايد زرګونو کلونو څخه يې په هيواد کې ښه غوره کړې او نن ورځ زموږ په چلندونو کې ښکاري او کېدای شي موږ ټول يې تکرار کړو. خو دغه چلند په دننه کې نابرابر دی او لازمه ده چې بيا کتنه يې وشي او اصلاح شي. يا دا باور چې سياست د نرانو کار دی او ښځې په ټولنه کې د مديريت کار نه شي کولای او لسګونه لسګونه نورې بېلګې.

د بشر حقونه د جندر په مساله تاکيد کوي چې د وخت په تېرېدو باورونه ارزښتونه او چلندونه د ښځې او نر د برابرۍ په لور بوځي او نا برابري له منځه يوسي.

## دويم بحث: د برابرۍ او د تبعيض د مخنيوي مفهوم

### الف ـ د برابرۍ مفهوم

نن ورځ ډېر په دې باور شوي دي چې انسانان له يو بل سره برابر دي! خو کله چې انسانانو ته ګورو، وينو چې هغوی له يو بل سره ډېر توپير لري. يو کس ممکن ښځه وي يا نر، يو کس سپين بل تور وي او بل ژېړ پوسته. يو کس چاغ وي او بل کمزوری ډنګر. يو تن په فزيک کې استعداد لري او بل په شعر او شاعرۍ کې. يک تن شرميندوک وي بل ټولنيز. که لا دقيق يې ووايو، حتا نه شو کولای په نړۍ کې دوه تنه پيدا کړو چې هو بهو د يو بل په څېر وي.

له دې بې شمېره توپيرونو سره چې انسانان يې د خلقت له نظره لري، څنګه ممکنه ده چې ووايو ټول يو له بل سره برابر دي؟

په ځواب کې بايد ووايو چې انسانان په خلقت کې له يو بل سره توپير لري، خو له ټولو توپيرونو سره سره، ټول انسانان په انساني کرامت کې له يو بل سره برابر دي. يعنې سمه ده چې انسانان د جنسيت له نظره او «نژاد، مذهب، مليت، ژبې، سياسي عقيدې، د استوګنې ځای، ټولنيزې طبقې او د عايد ... له پلوه له يو بل سره توپير لري، خو له دې توپيرونو سره سره بيا هم په خټه او انساني ماهيت کې له يو بل سره هيڅ توپير نه لري. په افريقا کې د يو فقير زوی د نړۍ له تر ټولو بډايه شخص سره په خټه او انساني ماهيت کې هيڅ فرق نه لري. يو مسلمان يا مسيحي يا هندو يا بودايي يو ډول انساني ماهيت او خټه لري او د يو خټه له بل څخه ډېره پاکه يا خرابه نه ده. د هغه انسان ماهيت چې په عبري ژبه خبرې کوي يا يو څوک چې په رومانيايي خبرې کوي، دواړه يو شی دي[۴]» په همدې ډول ښځه او نر که څه هم په جنس کې له يو بل سره توپير لري، خو په انساني کرامت کې له يو بل سره هيڅ توپير نه لري او برابر دي.

هغه مهمه پايله چې په انساني کرامت کې د ښځې او نر له برابرۍ ترلاسه کيږي دا ده، چې دواړه جنسونه بايد په باربر ډول له ټولو بشري حقونو څخه ګټه واخلي. مثلاً هم نر او هم ښځه د انساني کرامت درلودلو په دليل يو ډول او برابر د دې مستحق دي چې د ژوند، زده کړو، کار، روغتيا، واده او نور حقونه ولري او ګټه ترې واخلي.

برابري په بشري حقونو کې يو اصل دی او د بشري حقونو په بېلابېلو اسنادو کې ورته اشاره شوې ده. د بشر

۳ . په افغانستان کې د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو ادارې څخه اقتباس.
Gender Terminology ,Ministry of Women's Affair ,August 2006 cited in :Training Manual for Trainer.

۴ ـ نوری،عبدالعزيز، حقوق بشر، د کاتب پوهنتون خپرونه، ۴۹۳۱، ص ۸۳

د حقونو د نړيوالې اعلاميې په لومړۍ ماده کې راغلي چې د بشر هر فرد آزاد دنيا ته راځي او د کرامت او حقونو له اړخه له يو بل سره برابر دي، ټول د عقل او وجدان خاوندان دي او بايد له يو بل سره د برابرۍ په روحيه چلند وکړي».[۵]

### ب ـ د تبعيض د مخنيوي مفهوم

و مو ويل چې ټول انسانان – له ټولو هغو توپيرونو سره چې لري يې – په انساني کرامت کې له يو بل سره برابر دي او په پايله کې بايد په برابر ډول له ټولو بشري حقونو ګټه واخلي. هرکله که په ځينو لاملونو يو څوک له بشري حقونو محروم شي، وايوو چې له هغه سره تبعيض روا ګڼل شوى. مثلاً که په يو هيواد کې خلک مسيحي دي، که د يو مسلمان بچي ته – د مور او پلار د دين له امله – اجازه ور نه کړاى شي چې ښوونځي ته لاړ شي او د زده کړې له حق څخه ګټه واخلي، ويل کيږي چې له هغه سره تبعيض روا ګڼل شوى دى.

يا که يوې ښځې ته – د هغې د جنسيت له امله – اجازه ور نه کړاى شي چې ځان وکالت ته کانديد کړي يا د راييې اخستنې په ورځ د خپلې خوښې کانديد ته رايه ورکړي او له خپل سياسي حق څخه ګټه پورته کړي، ويل کيږي چې تبعيض ورسره روا ګڼل شوى.

يا د دولتي يا غير دولتي دندو د استخدام پر مهال، د يوې نژادي يا قومي ډلې غړيو ته اجازه ور نه کړي چې استخدام شي، ويل کيږي چې له دې ډلې سره تبعيض روا ګڼل شوى دى.

په بشري حقونو کې تبعيض منعه دى او اهميت يې تر دې حده دى چې کولاى شوو وواېو د بشري حقونو اصلي هسته همدا د تبعيض مخنيوى دى. د حقوقو په ټولو اسنادو کې ويل شوي چې د جنسيت، نژاد، دين او مذهب، مليت، سياسي عقيدې، ټولنيز پوړ، د عايد کچې او د دې په څېر نورو مسايل منعه دي. دولتونه بايد خپله ټوله هڅه وکړي چې د تبعيض هر ډول، په ټولنه کې له منځه ويسي. مثلاً د بشر د حقونو د نړيوالې اعلاميې په ۷مه ماده کې راغلي «ټول د قانون پر وړاندې مساوي دي او حق لري چې له تبعيض پرته په مساوي ډول د قانون له ملاتړه برخه من شي. ټول حق لري د هر هغه تبعيض په مقابل کې چې د دې اعلاميې ناقض وي او د هر تحريک پر وړاندې چې د دا ډول تبعيض لپاره وي، په مساوي ډول د قانون له ملاتړه برخه من شي». د مدني او سياسي حقونو کنوانسيون او د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو کنوانسيون په صراحت سره په دې اسنادو کې له درج شويو حقونو څخه په برخه منديدو کې برابرۍ ته اشاره کړې ده.

په بشري حقونو کې د تبعيض د مخنيوي اهميت تر دې حده دى چې دوه ډېر مهم سندونه چې نږدې د نړۍ ټول هيوادونه يې غړي دي په ملګرو ملتونو کې تصويب شوي. دا دوه سندونه «د نژادي تبعيض د ټولو بڼو د له منځه وړلو کنوانسيون» او «له ښځو سره د تبعيض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسيون» دي. په دويم فصل کې به پر دې موضوع لا ډېر بحث وشي.

## دويم فصل:

### د بشري حقونو په بين المللي نظام کې جنسيتي برابري او له ښځو سره د تبعيض مخنيوى

جنسيتي نابرابري او له ښځو سره تبعيض د ننۍ نړۍ له ستونزو څخه يوه ده. هره ورځ ښځې په بېلابېلو بڼو له تبعيض سره مخامخ دي او له خپلو حقونو محروميږي. له دې سره بين المللي ټولنې په دوو وروستيو پيړيو کې پراخې هڅې ترسره کړې دي، چې په نړۍ کې جنسيتي برابري لا پراخه کړي او له ښځو سره تبعيض له منځه يوسي. په دې فصل کې هڅه شوې څو وښودل شي چې په دې برخه کې بين المللي لاسته راوړنې څه دي. خو مخکې له دې لازمه ده چې د بشري حقونو د بين المللي نظام سره اشنا شوو او وروسته لاسته راوړنې په ګوته شي.

۵ - د بشر د حقونو نړيواله اعلاميه، ۱۹۴۸ کال کې تصويب شوې.

## لومړی بحث: د بشر د حقونو د بین المللي نظام مفهوم

نن ورځ د جنسيتي برابرۍ او له ښځو سره د تبعيض د مخنيوي لپاره هڅه په نړيواله مسله بدله شوې ده او د نړۍ ټول هيوادونه باید پروګرامونه ورته جوړ کړي، جنسيتي برابري لا پراخه کړي او له ښځو سره تبعيض له منځه يوسي. د دې موضوع له شنلو وړاندې چې په نړيواله کچه د دې مسلې لپاره کومې هڅې شوې دي، ښه ده چې د بشري حقونو له بین المللي نظام سره په لنډ ډول اشنا شوو.

د بشري حقونو بین المللي نظام د بین امللي اسنادو ټولګې او د هغې د څارنې میکانیزمونو ته وایي. په بل عبارت ویلای شو چې «د بشري حقونو له بین المللي نظام څخه مراد، هغه حقوقي نظام دی چې د دولتونو د تیري پر وړاندې د خلکو او ډلو د پيژندل شويو بين المللي حقونو ملاتړ کوي[٦]»

په لا روښانه ډول باید ووایو چې په دویم لوی او ویجاړوونکي نړیوال جنګ کې میلیونونه انسانان ووژل شول او نړۍ د له منځه تللو له خطر سره مخ شوه. نو هیوادونو تصمیم ونیو چې له یوې خوا د داسې جګړې د بیا پېښېدو مخه و نیسي او له بل پلوه و کولای شي د دولتونو او ډلو پر وړاندې د انسانانو ملاتړ وکړي او بشري حقونه يې وساتي. دا مسله د دې لامل شوه چې له دویم نړیوال جنګ څخه په راوروسته د بشري حقونو ملاتړ په نړۍ کې له بنسټي موضوعاتو څخه شي.

لومړۍ هڅه او ثمره يې د ملګرو ملتونو سازمان په اساسنامه (منشور) کې د بشري حقونو ځایول ؤ. د ملګرو ملتونو سازمان د منشور په لومړۍ ماده کې راغلي دي چې د دې سازمان یوه موخه «د بین المللي مسایلو په هواري کې چې اقتصادي، ټولنیز فرهنګي یا د بشردوستۍ اړخ لري، د بین المللي همکاریو خپلول او د بشري حقونو پر مخ وړل، تشویقوي او د ټولو ازادۍ ته د نژاد، جنس، ژبې یا مذهب له تمایز پرته احترام لري ». د دې اساسنامې ۵۵ او ۵٦ موادو د ملګرو ملتونو سازمان د غړیو دولتونو تعهدات، دې اهدافو ته د لاسرسي لپاره مشخص کړي دي. په ۱۳ ، ٦۲ او ٦۳ مواد کې هم د بشري حقونو مسلې ته اشاره شوې ده.

له هغې وروسته په ۱۹۴۸ ميلادي کې د بشر د حقونو نړیواله اعلامیه تصویب شوه. له هغې وروسته د سیاسي او مدني حقونو کنوانسیون او د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو د کنوانسیون په شمول نور حقوق بشري اسناد تیار او تصویب شول.

د دې لپاره چې په نړیواله کچه د دې اسنادو څارنه وشي، ځینې بنسټونه تاسیس شول چې په دې بین المللي اسنادو کې د درج شویو حقونو لپاره اسانتیا برابره کړي او هم د خپلو ژمنو پر وړاندې د دولتونو د فعالیت څارنه وکړي.

د بشر د حقونو کمیسیون، د ښځې د مقام کمیسیون، د بشر د حقونو کمېټه، د ماشوم د حقونو کمېټه او ... د دې بنسټونو له جملې څخه دي.

دې ټولو اسنادو، بنسټونو او د هغې څارنیزو میکانیزمونو ته د بشري حقونو بین المللي نظام وایي.

## دويم بحث: د بشري حقونو په بين امللي اسنادو کې جنسيتي برابري او د تبعيض مخنيوی

لکه څنګه چې مخکې وویل شول، په ټول حقوق بشري بین المللي اسنادو کې برابرۍ او د تبعیض مخنیوي ته اشاره شوې ده او په ډاډ سره کولای شو ووایو چې برابري او د تبعیض مخنیوی له هغو اصولو څخه دي چې بشري حقونه پرې ولاړ دي. د تبعیض له بېلابېلو بڼو څخه له ښځو سره تبعیض ډېر دود دی. د همدې لپاره د بشري حقونو په ټولو بین المللي اسنادو کې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د جنسیتي برابرۍ او تبعیض د مخنیوي بحث شوی دی.

---

٦ ـ مهرپور، حسین، نظام بین المللی حقوق بشر، د (اطلاعات) خپرونه، دریېم چاپ، تهران، ۱۳۸۷، ص ۱۹

**الف ـ مهم حقوق بشري اسناد چې په غیر مستقیم ډول پکې جنسیتي برابري او له ښځو سره د تاوتریخوالي مخنیوی، بحث شوي دي**

د بشري حقونو په بین المللي منشور کې چې د بشر د حقونو له نړیوالې اعلامیې، د سیاسي او مدني حقونو کنوانسیون او د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو کنوانسیون څخه جوړ شوی، په غیر مستقیم ډول یې پر جنسیتي برابرۍ او له ښځو سره د تاوتریخوالي پر مخنیوي بحث کړی دی.

**۱. د بشر د حقونو نړیواله اعلامیه**

د بشر د حقونو د نړیوالې اعلامیې په مقدمه کې د ښځې او نر تر منځ د جنسیتي برابرۍ په اړه راغلي دي «لکه څنګه چې د ملګرو ملتونو خلکو د بشر پر اساسي حقونو، د انساني افرادو کرامت او ارزښت او د نر او ښځې د حقونو تساوي یو ځل بیا په منشور کې په ډاګه کړې او تصمیم یې نیولی چې له ټولنیز پرمختګ سره مرسته وکړي او په ازاد چاپېریال کې د ښه ژوند وضعیت رامنځته کړي».

د بشر د حقونو د نړیوالې اعلامیې په لومړۍ ماده کې تاکید کوي چې ټول انسانان ښځې او نران د کرامت له مخې له یو بل سره برابر دي. په دې ماده کې راغلي دي چې «د بشر ټول افراد ازاد دنیا ته راغلي دي او د کرامت او حقوقو له نظره له یو بل سره برابر دي».

د بشر د حقونو د نړیوالې اعلامیې په دویمه ماده کې هم د برابرۍ او د تبعیض د مخنیوي خبره شوې ده. په دې ماده کې راغلي دي چې «که څه هم انسانان د نژاد، جنس، ژبې، مذهب، سیاسي عقیدې یا هرې بلې عقیدې، ملیت، اجتماعي وضعیت، ثروت، ولادت یا بل هر موقعیت» له نظره له یو بل سره فرق لري، خو ټول انسانان دي او باید په برابر ډول په منشور کې له درج شویو حقونو څخه برخه من شي. یعنې دا ماده دغه مسله واضحه کوي چې که څه هم ښځه او نر د جنس له نظره متفاوت دي، خو د کرامت له نظره برابر دي او دا دواړه جنسونه باید په برابر ډول له خپلو بشري حقونو څخه ګټه واخلي.

**۲. د مدني او سیاسي حقونو کنوانسیون**

د مدني او سیاسي حقونو کنوانسیون چې د افرادو بشري حقونه یې په سیاسي او مدني ماهیت سره مطرح کړي دي، د جنسیتي برابرۍ مسلې ته یې په جدي خو غیر مستقیم ډول اشاره کړې ده. د دې کنوانسیون د دویمې مادې لومړۍ او دویم بند دولتونه مکلفوي چې په کنوانسیون کې درج شوي بشري حقونه د ډلو هغو افرادو لپاره چې د دوی په حاکمیت کې اوسیږي له هیڅ ډول تمایز او تبعیض پرته – له بېلابېلو لارو، په ځانګړي ډول د قانون جوړونې له لارې تضمین کړي، چې ښځې هم د نرانو په څېر په برابر ډول له خپلو بشري حقونو ګټه واخلي. د کنوانسیون دا ماده په ۳ بند کې غړي دولتونه مکلفوي چې که چېرې یو څوک له خپلو بشري حقونو محروم شي باید دادغوښتنه ورته وشي او حق یې بېرته ورکړل شي. پر دې بنسټ که مثلاً یوې ښځې سره تبعیض وشي او له خپل یو بشري حق څخه- لکه په ټاکنو کې ګډون – څخه محرومه شي، باید هغه و کولای شي په دې اړه د خپل حق غوښتنه وکړي او دولت مکلف دی چې حق یې ورکړي.

**۳. د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو کنوانسیون**

دې کنوانسیون بشري حقونه په اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي ماهیت سره اعلام کړي دي. مثلاً د کار حق، د زده کړې حق، د روغتیا حق او نور. په دې کنوانسیون کې هم په غیر مستقیم ډول د جنسیتي برابرۍ او د تبعیض د مخنیوي په اړه بحث شوی.

دا کنوانسیون، د دویمې مادې په لومړي بند کې غړي دولتونه مکلفوي چې له خپلو ټولو شته منابعو څخه په

ګټې اخستنې سره او په هره ممکنه وسيله – په ځانګړي ډول له قانون جوړونې – ګټه واخلي څو په کنوانسيون کې درج شوي حقونه په تدريجي ډول تحقق و مومي. يعنې غړي دولتونه بايد په مشخصې پروګرام جوړونې سره له خپلو ټولو امکاناتو څخه په ګټې اخستنې سره په مرحله وار ډول خلکو ته له خپلو حقونو څخه د برخه منېدو زمينه برابره کړي. يعنې «يو پرمختلونکی پروګرام، چې د قانوني الزاماتو له درلودلو څخه زيات؛ هغه چې په غوښتل کېدونکو حقونو کې مطرح دي، د دولت په ښه نيت او سرچينو پورې تړاو لري[7]».

د جنسيتي برابرۍ او له ښځو سره د تاوتريخوالي د مخنيوي په برخه کې پورته موضوع دا معنا لري چې دولتونه بايد له خپلو ټولو سرچينو او امکاناتو څخه په ګټنې له ټولو اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو څخه د ګټې اخستنې لپاره ښځو ته زمينه برابره کړي، مثلاً دولتونه مکلف دي چې د ځانګړو پلانونو په طرحه کولو او اجرا سره او له ټولو هغو منابعو او امکاناتو څخه چې لري يې په ګټې اخستنې سره، دا زمينه برابره کړي چې نجونې هم له هلکانو سره په برابر ډول زده کړه وکړي. ښځې و کولای شي په برابر ډول له نرانو سره کار وکړي له خپلو اقتصادي حقونو څخه ګټه واخلي. همدا راز دولتونه مکلف دي چې د صحت له حق څخه د ښځو د ګټې اخستنې زمينه برابره کړي.

د جنسيتي برابرۍ او له ښځو سره د تبعيض د مخنيوي په برخه کې د دې کنوانسيون له مهمو موادو څخه يو يې د دې کنوانسيون ۱۰ مه ماده ده. دا ماده د کورنۍ، ميندو او ماشومانو په اړه ده. د دې مادې په لومړي او دويم بند کې راغلي دي چې «د دې کنوانسيون غړي دولتونه، د لاندې چارو ترسره کول په رسميت پېژني:

۱. تر ډېرو ډېره مرسته او ملاتړ بايد له کورنيو سره وشي چې د ټولنې طبيعي او بنسټي واحد دی. په ځانګړي ډول د کورنۍ د تاسيس لپاره او د مستقلو ماشومانو د ساتنې او ښوونې د مسئوليت لپاره، واده بايد په پوره آزادۍ صورت و نيسي.

۲. بايد له ميندو څخه په يوه معقوله دوره کې، له زېږون مخکې او وروسته، ځانګړی ملاتړ وشي. بايد په دې موده کې کارګرو ميندو ته د ټولنيز خونديتوب له مزاياوو سره رخصت ورکړل شي».

## ب ـ مهم حقوق بشري اسناد، چې په مستقيم ډول يې جنسيتي برابري او له ښځو سره د تاوتريخوالي د مخنيوي موضوعات بحث کړي دي

پورته اسنادو په غير مستقيم ډول پر جنسيتي برابرۍ او له ښځو سره د تاوتريخوالي پر مخنيوي بحث کړی. خو له کومه ځايه چې له ښځو سره د تبعيض مسله په نړۍ کې ډېره شايع ده ښځې د نړۍ په ډېرو هيوادونو کې له نرانو سره په برابر ډول نه توانېږي له خپلو بشري حقونو برخه منې شي، د ملګرو ملتونو سازمان داسې هڅې ترسره کړي چې په ځانګړي ډول ځينې اسناد ښځو سره د تبعيض د مخنيوي لپاره تهيه او تصويب کړي. له دې مهمو اسنادو څخه ځينې يې عبارت دي له:

### ۱. له ښځو سره د تاوتريخوالي د مخنيوي اعلاميه

دا اعلاميه په ۱۹۹۳ کال کې د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې له خوا صادره شوه. دا اعلاميه همداراز که څه هم چې له حقوقي اړخه الزامي نه ده، خو څو بنسټي اهميته لري. اول دا چې له ښځو سره د تاوتريخوالي موضوع يې پياوړې کړې ده او دې مسلې ته يې د دولتونو پام ور اړولی دی، دويم له معنوي اړخه د دې لامل شوې چې ډېرې هيوادونه هغه يوه ښېګه کړي او له ښځو سره د تاوتريخوالي د مخنيوي لپاره ځانګړي پروګرامونه تر لاس لاندې و نيسي.

7 ـ Shaw, Malcolm N, International Law, Sixth Edition, (Cambridge University Press), 2008, p.308. له نوري څخه اخستنه

### ۲. د بیجینګ د غورځنګ اعلامیه

دا اعلامیه په ۱۹۹۵ کال کې وروسته له هغې صادره شوه چې د نړۍ د هیوادونو استازو په یو لوی نړیوال کنفرانس کې په بجینګ ښار کې چې د چین پلازمېنه ده، راټول شول، څو د جنسیتي برابرۍ او له ښځو سره د تبعیض د مخنیوي په اړه تصمیم و نیسي. دا اعلامیه که څه هم چې له حقوقي اړخه د دولتونو لپاره الزامي نه ده، خو له معنوي اړخه ډېره مهمه ده. ځکه له ښځو سره د هر ډول تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره د لویې نړیوالې اجماع ښکارندویي کوي.

### ۳. د ښځو د سیاسي حقونو کنوانسیون

دا کنوانسیون د ۱۹۵۳ کال د مارچ پر ۳۱مه د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې له خوا تصویب شو. د دې کنوانسیون اصلي موخه دا ده چې له خپلو سیاسي حقونو څخه په برابر ډول د ښځو د برخه منېدو په برخه کې جنسیتي برابري راشي او په دې برخه کې تبعیض له منځه یوسي. سیاسي حق هغو بشري حقونو ته ویل کیږي چې له سیاست او د هیواد له اداري سره تړاو لري. د دې حق پر بنسټ چارواکي او هغه کسان چې پر خلکو حکومت کوي باید د خلکو له خوا او په یوه ډیموکراتیکه پروسه کې و ټاکل شي. له خلکو څخه مراد ټول هغه کسان دي چې د هغې هیواد د اتباعو برخه شمېرل کیږي. په نتیجه کې ښځې هم باید له نرانو سره په برابر ډول په نظر کې و نیول شي او هغوی هم په انتخاباتو کې د خپلو چارواکو په ټاکلو کې برخه واخلي. همدارنګه دا حق په دې معنا دی چې ښځې هم د نرانو په څېر و کولای شي په ټاکنو کې شرکت وکړي او د چارواکي په توګه انتخاب شي او په دې دلیل چې ښځه ده، له کاره منعه نه شي.

په کلي ډول د دې کنوانسیون موخه دا ده چې ښځې په برابر ډول له نرانو سره د ټاکلو او د ټاکل کېدلو په ګډون په ټولو فعالیتونو او په عامه دندو کې په برخه اخستنه کې ګډون وکړي او و کولای شي د خپل سیاسي برخلیک په ټاکلو کې برخه واخلي.

### ۴. له ښځو سره د تاوتریخوالي د ټولو بڼو د مخنیوي کنوانسیون

د جنسیتي برابرۍ او له ښځو سره د تاوتریخوالي په برخه کې تر ټولو مهم بین المللي سند «له ښځو سره د تاوتریخوالي د ټولو بڼو د له منځه وړلو کنوانسیون» دی.

دا کنوانسیون ۳۰ مادې لري چې د ۱۹۷۹ کال د ډسامبر پر ۱۸مه د ملګرو ملتونو په عمومي غونډه کې تصویب شوی. دا کنوانسیون دا مهال ۱۸۷ غړي دولتونه لري. افغانستان د ۱۹۸۰ کال د اګست پر ۱۴مه دا کنوانسیون لاسلیک[8] او د ۲۰۰۳ کال د مارچ په ۵مه یې تصوب[9] کړی دی [10].

«له ښځو سره د تبعیض د ټولو بڼو د له منځه وړلو بین المللي کنوانسیون، د ملګرو ملتونو د ښځې د مقام کمیسیون[11] د هڅو پایله ده. دا کمیسیون په ۱۹۴۶ کال کې د ښځو د وضعیت د ارزولو او د حقوقو د تامین لپاره ایجاد شو او تر ټولو مهمې برخې یې چې ښځو په هغو کې له نرانو سره برابر حقونه نه درلودل، پیاوړې کړې. د ښځو د وضعیت د ښه کولو لپاره د دې کمیسیون هڅې د څو اعلامیو په صادرولو او یو کنوانسیون سره پای ته ورسېدې، چې له ښځو سره د تاوتریخوالي د ټولو بڼو د له منځه وړلو کنوانسیون یې تر ټولو مهم او مرکزي دی. د بشري حقونو د بین المللي اسنادو په منځ کې دا کنوانسیون د بشري ټولنې د نیمې مونثې برخې د حقونو پر تسري ځانګړې تاکید کوي. د دې کنوانسیون روح او موخه، د ملګرو ملتونو د موخو د تحکیم لپاره هڅه – یعنې د بشر پر بنسټي حقونو، کرامت او د انساني افرادو ارزښت او د ښځې او نر پر برابرو حقونو پر ایمان لرلو بیا تاکید دی او هغې ته د

8 - Signature
9 - Ratification
10- https://treaties.un.org
- 11Commission on the Status of Women.

رسېدو لارې په ګوته کوي. په بل عبارت دې سند يواځې د ښځو څو حقونه نه دي بيان کړي، بلکې له دې حقونو څخه د برخه منېدو د تضمين لپاره دولتونو ته يو کاري دستور او اساس دی[۱۲]».

له ښځو سره د تاوتريخوالي د ټولو بڼو د له منځه وړلو کنوانسيون په مقدمه کې راغلي دي:

دا چې د بشر د حقونو نړيوالې اعلاميه د تبعيض د نه منلو اصل تائيد کړی او اعلام کړې يې ده چې د بشر ټول افراد آزاد نړی ته راغلي دي او د منزلت او حقوقو له نظره يو ډول دي او پرته له هيڅ ډول تمايز، لکه د جنسيت پر بنياد تمايز، حق لري چې له ټولو حقونو او ازاديو څخه چې په دې اعلاميه کې راغلي دي ګټه واخلي. په عين حال کې له دې اندېښنې سره چې له ډېرو حقوق بشري اسنادو د شتون سره بيا هم له ښځو سره تبعيضونه روان دي، د دې يادونه چې له ښځو سره تبعيض د حقونو د برابری او انساني کرامت ته د درناوي د اصولو نقضوونکی او په سياسي، ټولنيز، اقتصادي او فرهنګي ژوند کې له نرانو سره د ښځو د مساوي ګډون مانع دی، خو بيا هم دا کنوانسيون د ټولنې او کورنۍ د نېکمرغۍ باعث شوی.».

د دې کنوانسيون اصلي موخه دا ده چې په هيوادونو کې جنسيتي برابري رامنځته کړي او له ښځو سره تاوتريخوالی له منځه يوسي. دې موخې ته د رسېدو لپاره يې د غړو دولتونو پر اوږو ځينې ژمنې ايښې دي. د کنوانسيون غړی دولت مکلف دی چې دغه ژمنې اجرا کړي.

ځينې مهمې ژمنې چې غړي دولتونه يې لري عبارت دي له[۱۳]:

## د قانون پر وړاندې د ښځو او نرانو برابري او د هغې تضمين

د کنوانسيون دويمه ماده او د ۱۵ مې مادې دويم بند د قانون او د بېلابېلو برخو په وړاندې يې د ښځې او نر د برابری د لزوم په اړه دي. د دې موادو پر بنسټ غړي دولتونه بايد د قانون پر وړاندې د ښځې او نر د برابری اصل ومني او هغه په اساسي قانون او نورو داخلي قوانينو کې راولي او په عمل کې يې پلي کړي. دا دولتونه بايد د هر فرد يا ارګان له خوا پر ښځو د تبعيض د اعمال مخنيوی وکړي او په قانوني تدابيرو، د اجرا مناسبو ضمانتونو او د ملي محکمو او نورو عمومي بنسټونو له لارې، له نرانو سره د ښځو له برابرو حقونو ملاتړ وکړي. دولتونه بايد ټول جزايي او مدني قوانين، عدات او اداري چلندونه چې د ښځو اړوند تبعيضي دي له منځه يو سي، لغوه يې کړي او يا يې بدل کړي.

## د ټولنيزو او فرهنګي بېلګو بدلون

په ۵مه ماده کې غړي دولتونه ملزم شوي دي چې د هغو ټولنيزو او فرهنګي بيلګو د بدلون په برخه کې چې د تعصباتو، باورونو، کليشو او سپک ګڼونکو او پر يو جنس د بل جنس د برتري غوښتونکو چلندونو لامل کيږي، لازم اقدامات ترسره کړي.

د دې ناسمو فرهنګي او ټولنيزو بېلګو ډېر مثالونه کولای شوو په افغانستان کې ووينو. د بېلګې په ډول د ښځې د مکارۍ او حيله ګرۍ تصور په ټولنه کې د ښځې منفي تصوير ورکوي. له دې کبله کيدای شي چې تل له ښځو سره محتاط و اوسئ او له هغوی نه ځان لرې وساتئ[۱۴]. د کنوانسيون ۵مه ماده همدارنګه د مورولۍ مسلې ته اشاره کوي او وايي چې بايد له مور څخه د يوې ټولنيزې دندې په توګه سم درک وشي او ښځه او نر دواړه په مشترک ډول د ماشوم د تربيې او روزنې مسوليت پر غاړه واخلي.

- 12http//:www.۲ohchr.org/english/law/cedaw.htm.

۱۳ ـ نوري، پيشين، صص ۹۶-۹۹

۱۴ ـ سرآمد، حسين او نور، عوامل و زمينه‌های تجاوز جنسی و قتل ناموسی در افغانستان (گزارش تحقيق ملی)، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون، کابل، ۱۳۹۲، ص ۵۶.

### د ښځو د خرڅولو او فحشا د مخنيوي په برخه کې د دولتونو دنده

د کنوانسيون ٦ مه ماده غړي دولتونه ملزموي چې د اړتيا وړ هر ډول اقدام لکه د قانون ټاکل، د ښځو د هر ډول معامله کولو او په فحشا کې له هغوی څخه د ګټې اخستنې په برخه کې مقابله وکړي او ښځو اړوند د دې اعمالو د ترسره کولو مخنيوی وکړي.

### د ښځو د سياسي حقونو ملاتړ

۷مه ماده له غړو دولتونو غواړي چې له خپلو سياسي حقونو څخه د برخه منېدو په برخه کې له ښځو سره د تاوتريخوالي د مخنيوي لپاره لازم قدامات ترسره کړي او په دې اړه ډاډ ورکړي چې ښځې په برابر ډول د رايې ورکولو او رايې اخستلو حق لري او په ټولو ټاکنو او پروسو کې، په ټولو ارګانونو کې د سياست او دولت په ټاکلو کې او د دولتي پستونو پرغاړه اخستلو، د دندې په ترسره کولو کې او په سازمانونو او غير دولتي ټولنو کې چې د هيواد له عمومي او سياسي ژوند سره اړه لري، له ګډون څخه ګټه اخلي.

### د ښځو د مدني حقونو ملاتړ

د کنوانسيون ۱۵ مه ماده کې، يو شمېر مدني حقونه راغلي دي ، چې ښځې بايد ورځنې د نرانو په څېر په برابر ډول برخه منې شي. د دې مادې پر بنسټ ښځې بايد په مدني چارو کې له نرانو سره برابر قانوني اهليت ولري او د دې اهليت د اجرا مساوي امکان هم ولري. ښځې بايد د قرارداد په انعقاد او د اموالو په اداره کې له نرانو سره مساوي حقونه ولري او د دادرسۍ په ټولو مراحلو کې په محکمو کې له هغوی سره مساوي چلند وشي. پر دې بنسټ غړي دولتونه بايد هر ډول قرارداد يا نور خصوصي اسناد چې د ښځو د قانوني صلاحيتونو د محدودولو لپاره تنظيم شوي، باطل اعلان کړي. همدارنګه ښځې بايد د تګ راتګ او د استوګنځي د انتخاب قانون اړوند له نرانو سره مساوي حقونه ولري. ۱٦ مه ماده د واده موضوع بحث کوي او د واده اړوند د برابر حق د اعمال اړوند يې پر غړو دولتونو ځينې تعهدات ايښي دي.

### د ښځو د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو ملاتړ

له ښځو سره د تاوتريخوالي د ټولو بڼو د له منځه وړلو کنوانسيون د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي حقونو نسبتاً يوه پراخه لړۍ په ۱۰ ، ۱۱ ، ۱۲ ، ۱۳ او ۱۴ موادو کې راوړې ده، چې بايد له هغې حقونو څخه له نرانو سره يو شان د ښځو د برخه منېدلو په برخه کې، لازمې هڅې وکړي.

### مثبت تبعيض

کنوانسيون په ۴مه ماده کې يادونه کړې چې د غړو دولتونو له خوا د ځانګړو او موقتي تدابيرو نيول (چې د ښځو او نرانو برابرۍ ته چټکتيا ورکول يې موخه ده) بايد د ښځو په ګټه تبعيض و نه شميري، په دې شرط چې دا نابرابرۍ د ښځو او نرانو د برابرۍ هدف ته له رسېدو وروسته بند شي او پخپله دغه نابرابرۍ، د نابرابرۍ ستڼدرډونه رامنځته نه کړي. په دې ماده کې همدارنګه تاکيد شوی چې ځانګړي اقدامات لکه د ښځو د مور کېدو د نقش ترسره کول بايد تبعيض آميز و نه ګڼل شي.

دې کنوانسيون د جنسيت پر بنسټ د برابرۍ اصول مشخص کړي، د دولتونو مسئوليتونه يې شمېرلي او شرحه کړي دي، چې غړي دولتونه څنګه کيدای شي د کنوانسيون د څارنې لاندې و اوسي. په بل عبارت د کنوانسيون د تصوب پروسه، د غړو دولتونو له خوا د ګزارشونو جوړول، وړاندې کول او تحليلول دي، دې نوي

فرهنګ د تاوتریخوالي او جنسیت فهم رامنځته کړی[۱۵].

### ۵. د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا ۱۳۲۵ پرېکړه لیک

د جنسیتي برابرۍ او د تبعیض د مخنیوي اړوند بل مهم سند، د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا ۱۳۲۵ پرېکړه لیک دی. دا پریکړه لیک په ۲۰۰۰ میلادي کال کې د ملګرو ملتونو سازمان د امنیت شورا له خوا تصویب شو چې خورا اهمیت لري. اول دا چې د امنیت شورا له خوا صادر شوی او ښیي چې د جنسیتي برابرۍ او له ښځو سره د تبعیض د مخنیوي مساله د نړۍ د مهمو مسایلو برخه ده، چې د نړۍ په سولې او امنیت پورې تړاو لري او نړیوال اهمیت لري.

د دې پریکړه لیک پر بنسټ د ملګرو ملتونو غړي ولتونه، په ځانګړې ډول هغه هیوادونه چې له جګړې راوتي دي، باید هڅه وکړي چې په خپل هیواد کې جنسیتي برابري رامنځته کړي. پر دې بنسټ دولتونه باید تضمین کړي چې ښځې په پالیسیو او تصمیم نیونو کې شته او په بېلابېلو دولتي سکتورونو کې، په ځانګړې ډول امنیتي سکتورونو کې لکه پولیس او اردو کې فعالیت کوي. دولتونه باید په دې برخه کې حساب ورکوونکي وي او په منظم ډول د خپل کار رپوټ ورکړي...

### دویم بحث: د جنسیتي برابرۍ او له ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي د بین المللي حقوق-بشري سازمانونو اقدامات

له هغو اسنادو پرته چې پورته ورته اشاره وشوه، ډېر شمېر بین المللي سازمانونه او بنسټونه جوړ شوي چې په عملي توګه د جنسیتي برابرۍ د پراختیا او له ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره په عملي ډول هڅه وکړي. په دې برخه کې یې تر ټولو مهمو سازمانونو ته اشاره کیږي.

### الف. د ملګرو ملتونو د مقام کمیسیون

دا کمیسیون په ۱۹۴۶ کال کې د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزې شورا له خوا جوړ شو. د دې کمیسیون دنده « اقتصادي او ټولنیزې شورا ته په سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي برخو کې د ښځو د حقونو د ارتقا اړوند وړاندیزونو او توصیو جوړول او وړاندې کول دي. کمیسیون کولای شي له اقتصادي او ټولنیزې شورا څخه وغواړي چې د ښځو د حقونو اړوند موضوعات چې چټکه رسیدګي غواړي، فوري پام ورته واړوي[۱۶] ». د ښځو د حقونو د ملاتړ لپاره د دې کمیسیون نقش ډېر مهم پاتې شوی په ځانګړې ډول «ښځو سره د تبعیض د مخنیوي لپاره دې کمیسیون د ملګرو ملتونو سازمان د طرحو په ابعادو کې مهم نقش درلودلی دی... کمیسیون په وروستیو کلونو کې توانېدلی چې په معاصرو ټولنو کې د ښځو د نقش او اړتیاوو اړوند موضوعات بحث کړي او د ښځو پر سیاسي، اقتصادي او ټولنیزې ارتقا متمرکز وشي[۱۷]».

### ب. له ښځو سره د تبعیض د مخنیوي کمېټه

«له ښځو سره د تبعیض د مخنیوي د ټولو بڼو د له منځه وړلو کنوانسیون» په ۱۷ مه ماده کې ویلي چې باید په کنوانسیون کې د راغلیو موادو د اجرا او څارنې لپاره یوه کمېټه تاسیس شي. دا کمېټه له دولتونو څخه د رپوټ د غوښتنې او دې رپوټونو ته د رسیدګۍ په څېر روشونو له لارې «له ښځو سره د تبعیض د ټولو بڼو د له منځه وړلو

---

- 15Merry ,Sally Engle**, *Human Rights and Gender Violence***, (The University of Chicago Press),Chicago and London, 2006, p.72.

۱۶ ـ مهرپور، پیشین، ص ۱۶۴

۱۷ ـ هماغه

کنوانسیون» د اجرا څارنه کوي.

**دریم بحث: د جنسیتي برابرۍ او له ښځو سره د تبعیض د مخنیوي لپاره د بین المللي اقداماتو او هڅو دلایل**

یوه مهمه پوښتنه چې کېدای شي مطرح شي دا ده چې ولې نړیواله ټولنه هڅه کوي چې جنسیتي برابري په نړۍ کې پراخه شي او له ښځو سره تبعیض له منځه یوسي؟ په ځواب کې باید وویل شي:

لومړی، لکه څنگه چې وویل شول، ښځه او نر د برابر انساني کرامت او ارزښت درلودونکي دي. نو باید له خپلو ټولو حقونو برخه من شي. خو له بده مرغه وینو چې ښځې له خپلو ډېرو حقونو محرومې دي. په ډېرو هیوادونو کې د ناسمو دودونو د ترویج له امله یا هم د اقتصادي، سیاسي او یا هم نورو ستونزو له امله، ښځې له نرانو سره برابرې نه گڼل کیږي او له خپلو ډېرو حقونو څخه محرومیږي.

دویم دا چې د هیوادونو د پراختیا کچه برابره نه ده او د هیوادونو د پراختیا د کچې په نسبت، له خپلو بشري حقونو څخه د ښځو برخه منبدل هم توپیر لري. مثلاً په هغو هیوادونو کې چې د بشر حقونه بنسټي شوي دي، ښځې کمې له تبعیض سره مخ کیږي خو په هغو هیوادونو کې چې کمه پراختیا یې موندلې، له ښځو سره تبعیض ډېر لیدل کیږي. لکه په افغانستان کې ډېرې نجونې ښوونځي ته نه شي تللای یا ډېرې ښځې له کافي روغتیایي خدماتو برخمنې نه دي.

دا مسله د دې باعث شوې چې د ښځو مسله په نړیواله موضوع بدله شي. ځکه په بین المللي غونډو کې د جنسیتي برابرۍ او له ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي مسله مطرح شوې، چې د نړۍ ټول هیوادونه دې مسلې ته پام وکړي او په همکارۍ او هر اړخیزو او گډو هڅو سره له هغې سره مبارزه وکړي او له منځه یې یوسي.

## دریم فصل:

### په افغانستان کې جنسیتي برابري او له ښځو سره د تبعیض مخنیوی

نن ورځ د جنسیتي برابرۍ او له ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره پراخې بین المللي هڅې رواني دي. افغانستان هم د بین المللي ټولنې یو غړی دی او لازمه یې گڼلې چې له کنوانسیونونو او بین المللي اسنادو سره ملحق شي، په دې برخه کې یې ځینې نوي قوانین تصویب کړي او د جنسیتي برابرۍ او ښځو سره د تبعیض د مخنیوي لپاره یې میکانیزمونه او بنسټونه جوړ کړي. په دې فصل کې دغه اقدامات بحث کیږي.

**لومړی بحث: د افغانستان په قوانینو کې جنسیتي برابري او ښځو سره د تبعیض مخنیوی**

د طالبانو له سقوط او د نوي اساسي قانون تر تصویب وروسته، د جنسیتي برابرۍ او له ښځو سره د تبعیض د مخنیوي په برخه کې د افغانستان د دولت تر ټولو مهمې لاسته راوړنې عبارت دي له:

**۱. په نوي اساسي قانون کې د جنسیتي برابرۍ او ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي د له منځه وړلو درج کول**

د ښځو او نرانو د برابرۍ په تامین کې د افغانستان د نوي دولت تر ټولو مهم گام، په ۲۰۰۴ کال کې د نوي اساسي قانون تصویب دی. هغه قانون چې په هغې کې د ښځو او د نرانو برابري تسجیل شوې ده.

د اساسي قانون ۲۲مې مادې د افغانستان د اتباعو تر منځ هر ډول تبعیض منعه کړی دی او د ښځې او نر برابري یې په قانون کې تسجیل کړې ده. د اساسي قانون ۴۴مې مادې، دولت د ښځو د سواد زده کړې او د

ښوونې د پراختیا په برخه کې د پراختیایي پروګرامونو په پلي کولو مکلف کړی دی.

د افغانستان د نوي اساسي د ۴۴مې مادې دقیقه ارزونه ښیي، چې قانون جوړوونکو په یو ډول په دې ماده کې د ښځو په ګټه پر مثبت تبعیض تاکید کړی دی او د افغانستان دولت یې د ښځو د ښوونې او روزنې د حق پر وړاندې مکلف کړی او د ړندو او اغېزمنو لارو چارو په رامنځته کولو یې مکلف کړی دی. د افغانستان د نوي اساسي قانون ۵۴مې مادې د کورنۍ د ملاتړ په برخه کې د دولت د مکلفیت یادونه کړې ده، په دې ماده کې د مور او ماشوم روحي او بدني سلامتیا ساتل د دولت له مهمو مکلفیتونو څخه ګڼل شوې ده او دولت ته دنده سپارل شوې چې لازم او د اړتیا وړ شرایط ورته رامنځته کړي. د اساسي قانون ۸۳مې مادې د هر ولایت د نفوس په تناسب په اوسط ډول کم تر کمه دوه ښځې وکیلانې په لویه جرګه کې د غړیو په توګه اټکل کړې دي. همدارنګه ۸۴مه ماده د مشرانو جرګې د درې وو یوه برخه غړو په اړه چې د جمهور رییس له خوا پیژندل کیږي، له جمهور رییس څخه غواړي چې نیم یې له ښځو وټاکي.

## ۲. له ښځې سره د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون تیارول او تنفیذ یې

له ښځې سره د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون تیارول او تنفیذ یو له بنسټي کارونو څخه دی چې د افغانستان دولت په تېرو ۱۵ کلونو کې د ښځو په ګټه ترسره کړی دی.

د دې قانون د دویمې مادې پر بنسټ، د دې قانون د تصویب موخې په لاندې ډول دي؛ د ښځې د قانوني حقونو تامین او د کرامت ساتنه یې، د کورنۍ د سلامتیا ساتنه او له دودونو، عرف او ناوړو عادتونو سره مبارزه، چې ښځې سره د تاوتریخوالي لامل کیږي، د تاوتریخوالي د قربانیانو ملاتړ، ښځې سره د تاوتریخوالي مخنیوی، ښځو سره د تاوتریخوالي په اړه د عامه پوهې د کچې لوړول او ښځې سره د تاوتریخوالي جرم د مرتکبینو عدلي تعقیب.

له ښځې سره د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون ۱۵مې مادې، ښځې سره د تاوتریخوالي د مخنیوي عالي کمیسیون رامنځته کړ، چې دغه لاندې صلاحیتونه لري؛ د تحقیق، د ښوونیزو پروګرامونو اجرا، له تاوتریخوالي سره د مبارزې د بنسټونو تر منځ د همغږۍ تامین، د تعدیل یا د مقرراتو د وضع کولو وړاندیز چې د دې قانون په پلي کولو کې اغېزمن وي او نور...

د دې قانون له ۸مې تر ۱۵مې مادو کې ملاتړیز بنسټونه معرفي شوي دي او له ښځې سره د تاوتریخوالي د مخنیوي اړوند یې د ټولو مسولیتونه ذکر کړي دي. د دې قانون دریېم فصل له ښځې سره د تاوتریخوالي د جرمونو جزایي مسایل بحث کړي.

د دې قانون یوه تر ټولو مهمه ماده ۴۳ مه ده چې تصریح کوي؛ په هغه صورت کې چې د دې قانون احکام د هیواد له نورو عادي قوانینو سره په مغایرت کې وي، د دې قانون احکامو ته لومړیتوب ورکول کیږي.

## ۳. د اهل تشیع د شخصي احوالو قانون اصلاح

د اهل تشیع د شخي احوالو قانون د تصویب اهمیت په دې کې دی، چې دا قانون ۱۳۸۷/۱۲/٤ نېټه د افغانستان د ولسي جرګې له خوا تر تصویب وروسته د ښځو د حقونو د مدافعو بنسټونو هڅې، په ځانګړي ډول د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او د دې بنسټونو اعتراضونه د دې لامل شول، چې دغه قانون یو ځل بیا د جمهور رییس په فرمان د وزیرانو د شورا له خوا تعدیل شو او ځینې هغه مادې چې په ښکاره ډول د جنسیتي برابرۍ لپاره په ضرر وې، له منځه یوړل شوې او یا هم تعدیل شوې.

## ٤. د ښځو او ماشومانو د زورونې د مخنیوي قانون تصویب

دا قانون د ۱۳۹۵ کال د لړم پر ۱۹مه د افغانستان د مشرانو جرګې له خوا تصویب شو. په دې قانون کې د

ښځو زورونه لکه ژبنی، فزيکي، ليکلې يا تصويري زورونه تعريف شوې ده او د هغې لپاره جزا ټاکل شوې ده. دا قانون درې فصلونه او ۲۹ مادې لري.

## ۵. د کورنۍ د ملاتړ قانون تسويد

## ۶. د افغانستان د ټاکنو قانون

د بېلګې په توګه د دې قانون په ۲۲مه ماده کې چې د اساسي قانون د ۸۳مې مادې پر بنسټ ليکل شوې ده، د هيواد په پارمان کې له ۲۴۹ چوکيو څخه ٦۸ چوکۍ (د هيواد د ولايتونو يو په دوه) ښځو ته ځانګړې کړې دي. په داسې حال کې چې ښځې د چوکيو د لاسته راوړلو لپاره هم له نرانو سره د برابر او ازاد رقابت له امتياز څخه برخه منې دي. په دې ماده کې قانون جوړوونکي په ښکاره ډول د ښځو په ګټه مثبت تبعيض کړی دی.

## ۷. د کار د قانون د ځينو موادو اصلاح

د کارمند په استخدام کې جنسيتي برابري (د کار د قانون ۳مه ماده)، د کار په مقابل کې د ښځو او نرانو د مساوي مزد ترلاسه کول (د کار د قانون ۸مه ماده)، د تقاعد په عمر کې جنسيتي برابري (د کار د قانون ۱۳۸ ماده)، د ښځو لپاره د کاري وقفو يا رخصتۍ امتيازات (د کار د قانون ۵۴مه ماده)، سختو او درندو کارونو کې د ښځو د استخدام مخنيوی (د کار قانون ۱۲۰مه ماده)، د شپنيو کارونو لپاره د ښځو د استخدام مخنيوی (د کار قانون ۱۲۱مه ماده) دا ټول هغه تر ټولو مهم موارد دي چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د کار په قانون کې تسجيل کړي دي.

## ۸. د جنسيتي برابرۍ په اړه د بشري حقونو د ځينو بين المللي قوانينو او اسنادو تصويب او لاسليک

دا هغه بل کار دی چې د افغانستان دولت په تېرو پنځو کلونو کې ترسره کړی دی. په دې منځ کې له ښځو سره د تاوتريخوالي د ټولو بڼو د مخنيوي کنوانسيون سره الحاق دی (۲۰۰۳ د مارچ ۵مه)، په ۲۰۰۰ کال کې د ملګرو ملتونو د شورا ۱۳۲۵ پريکړه ليک ته ځانګړې پاملرنه او د دې پريکړه ليک لپاره په ۲۰۱۵ کال کې د عمل د ملي پروګرام جوړول، په تېرو پينځه لسو کلونو کې د افغانستان د دولت تر ټولو مهمه لاسته راوړنه شمېرل کيږي.

پر همدې بنسټ ويلای شو چې په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو له سقوط او د افغانستان د نوي دولت له رامنځته کېدو وروسته، ښځو د قانون جوړونې په برخه کې نوي فرصتونه لاسته راوړل، چې دا دی پينځه لس کاله وروسته او د نړيوالې ټولنې او بشري حقونو د مدافعو بنسټونو په ملاتړ، په ځانګړي ډول په ملي او بين المللي کچه د ښځو د حقونو مدافع بنسټونو په مرسته ښه او مناسب وضعيت کې دي.

د افغانستان نوي دولت د طالبانو د اداري فرمانونه او قوانين چې د ښوونې روزنې، لوړو زده کړو او کار په برخو کې يې د ښځو حقونه محدود کړي ؤ لغوه اعلان کړل او نوي قوانين يې چې تر يوه حده پکې جنسيتي برابري رعايت شوې ده، رامنځته کړل.

په تېرو پينځه لسو کلونو کې د افغانستان دولت د افراطي بنسټونو او بهيرونو له خوا د پرتو ننګونو سره سره، چې د ناوړو عنعناتو او عرف پر حاکميت بنا دي او د دين مذهب ناسمو تفسيرونو سره سره، و توانيد خپل تمايل د جنسيتي برابرۍ په تامين کې، کم تر کمه د قانون جوړنې به برخه کې وښيي او په ځينو مواردو کې يې عملاً ښځو سره د تاوتريخوالي د مخنيوي د ټولو بڼو د له منځه وړلو کنوانسيون د دويمې او دريېمې مادې پر بنسټ، د ځينو قوانينو د مادو د تعديل او تغير؛ لکه د اهل تشيع د شخصيه احوالو د قانون اړوند، اقدام کړی دی.

د پورته لاسته راوړنو سره سره، د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون په باور لا هم د ښځو پر وړاندې ډېرې قانوني نګونې شته، چې ځینې یې په لاندې ډول دي.

په قانون کې د جنسیتي برابرۍ په برخه کې یوه تر ټولو غټه نګونه د هیواد د مدني قانون ۷۰مه ماده ده. په دې ماده کې د هلک او نجلۍ د واده د اهلیت عمر له دوه کاله تفاوت سره په نظر کې نیول شوی دی. په دې ماده کې د هلکانو د واده د اهلیت عمر ۱۸ کاله پوره کول دي او د نجونو د واده د اهلیت لپاره ۱٦ کاله پوره کول راغلي دي.

د مدني قانون د دې مادې په پیروۍ د اهل تشیع د شخصیه احوالو قانون هم په ۹۴مه ماده کې د واده د اهلیت سن همدا ډول تایید کړی دی.

د مدني قانون د ۷۰مې مادې پر بنسټ، له قانوني عمر څخه په کم عمر کې واده قانوني نه شمېرل کیږي خو د دې قانون ۷۱مه ماده بیا هغه نجلۍ چې له ۱۵ کلونو زیات او له ۱٦ کلونو کم عمر ولري د صحیح التصرف پلار یا د با صلاحیته محکمې په اجازه یې واده کول، قانوني ګڼي. دا هغه څه دي چې کولای شي د اجباري ودونو لپاره فرصت یازمینه برابره کړي او قانون هم د دې ملاتړ وکړي. د اهل تشیع د شخصیه احوالو قانون ۹۴مې مادې هم دا صلاحیت ولي او محکمې ته ورکړی دی او حتا له ۱۵ کلنۍ د کم عمر لرونکو نجونو د واده د بطلان قید یې هم نه دی راوړی. د مدني قانون د د اهل تشیع د شخصیه احوالو قانون د دې دوو مادو سره سم، نه یواځې د ښځې او نر تر منځ جنسیتي برابري په نظر کې نه ده نیول شوې، بلکې دغه دوه ماې په ځانګړي ډول د اهل تشیع د شخصیه احوالو قانون ۹۴مې مادې په کم عمر کې او د اجباري ودونو لپاره زمینه برابره کړې ده او په یو نه یو ډول له دا ډول ودونو څخه ملاتړ کوي. تر ټولو مهمه دا چې دا دوه مادې ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون د پینځمې مادې له ۱۲ جز سره په ښکاره مغایرت ې دي، چې په هغې کې ویل شوي؛ له قانوني عمر څخه په کم عمر کې نکاح تاوتریخوالی شمېرل کیږي او جواز نه لري.

د میراث حل بل مورد دی چې د افغانستان په مدني قانون کې د ښځې او نر برخه په دوه برابره تفاوت سره تسجیل شوې ده او د اهل تشیع د شخصیه احوالو قانون په ۲۰۴ ماده کې هم پر دې تفاوت تاکید شوی دی.

د هیواد په مدني قانون کې د جنسیتي برابرۍ پر وړاندې یوه بله قانوني نګونه هم خاوند (نر) ته د طلاق د حق ورکول دي. د افغانستان د مدني قانون له ۱۳۵ څخه تر ۱۵۵ پورې مادې د طلاق شرایط په پوره ډول د نرانو په ګټه بیانوي. د ۱۳۵ مادې پر بنسټ د طلاق د ورکولو حق خاوند یا با صلاحیته محکمې پورې اړه لري او یواځې هغه وخت دا حق ښځې ته ورکول کیږي چې په دې برخه کې د خاوند له خوا مخکې له مخکې ژمنې موجودې وي.

## دویم بحث: د جنسیتي برابرۍ او ښځو سره د تبعیض د مخنیوي لپاره د افغانستان د دولت اقدامات

له قوانینو پرته، د افغانستان په حقوقي او اداري جوړښت کې، بنسټونه او دولتي اداري ځواکمنې شوې دي یا رامنځته شوي دي، چې د جنسیتي برابرۍ ملاتړ وکړي او ښځو سره د تبعیض د مخنیوي لپاره هڅه وکړي.

په لنډ ډول ویلای شو چې د جنډر مسله سره له دې چې د ځینو بنسټونو او دولتي ادارو ، لکه ولسي جرګه او د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، په طرزالعمل کې په دایمي ډول راغلې ده، د ډېرو دولتي ارګانونو په اداري چوکاټ کې د جنډر برخې جوړې شوې دي، چې جنسیتي برابرۍ ته پراختیا ورکړي او له ښځو سره تبعیض له منځه یوسي. مثلاً په کابل او ډېرو ولایتونو کې ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي ځانګړې څارنوالۍ جوړې شوې دي، له ښځو سره د تاوتریخوالي پر وړاندې د مبارزې محاکم په کابل کې جوړ شوي دي او ځینې غیر دولتي بنسټونه چې په عام او خاص ډول د ښځو د حقونو ملاتړ کوي، مرسته ورسره شوې، چې په دې برخه کې یې درېږنو.

**۱. پارلمان، د قانون جوړونې د يو عام بنسټ په توګه**

د افغانستان د يو عام قانون جوړوونکي بنسټ په توګه، ښځو سره د تاوتريخوالي د ټولو بڼو د له منځه وړلو د بين المللي کمېټې سره د افغانستان د دولت عضويت ته په کتو، مکلف دی چې په قانون جوړونه کې د جنسيتي برابرۍ بهير حمايه کړي. په ۲۰۰۱ کال کې د موقتې اداري له جوړېدو وروسته افغانتسان دا دی دويمه پارلماني دوره تجربه کوي، چې د ۲۰۱۰ کال په ټاکنو کې رامنځته شوی. د افغانستان پارلمان همدارنګه دنده لري چې د حکومت د اجراتو څارنه وکړي.

**۲. د ښځو د چارو وزارت د يو خاص بنسټ په توګه**

د ښځو د چارو وزارت په ۲۰۰۱ کال کې د موقتې اداري په رامنځته کېدو سره جوړ شو او مکلف دی چې له ښځو سره د تبعيض د ټولو بڼو د له منځه وړلو کنوانسيون سره سم په قانون جوړونه کې ملاتړ او څارنه وکړي.

**۳. د عدليې وزارت په چوکاټ کې د بشر د حقونو واحد، د خاص ميکانيزم په توګه**

عدليه وزارت په په ټوله کې او په دې وزارت کې د بشر د حقونو واحد په ځانګړې ډول، د بشري حقونو د ارزښتونو د پياوړتيا په موخه رامنځته شوی. دا وزارت د عادي قووانينو د طرحې او وړانديز مسوليت لري او د تاوتريخوالي د مخنيوي قانون د ۱۵ مې مادې پر بنسټ، ښځو سره د تاوتريخوالي د مخنيوي د عالي کميسيون د غړي په حيث، دنده لري چې د قوانينو په طرحه کې او په قانون جوړونه کې جنسيتي برابري رعايت کړي.

۴. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون، **د بشري حقونو په برخه کې د يو عام بنسټ په توګه**

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د بن د توافق له مخې د ۲۰۰۲ کال د جون پر شپږمه جوړ شو او د اساسي قانون د ۵۸مې مادې پر بنسټ د هيواد په کچه د بشري حقونو د څارنې او ملاتړ صلاحيت لري. د افغاستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د مدني ټولنې او د ښځو د حقونو د مدافعو بندسټونو په څنګ کې، په قانون جوړونه کې د جنسيتي برابرۍ د تامين په برخه کې مهم نقش لوبولی. د بېلګې په ډول په ۲۰۰۹ کال کې د شخصيه احوالو د قانون د تصويب شوي متن پر وړاندې، چې په هغې کې په ښکاره ډول د ښځو حقونه نقض شوي ؤ، د اعتراض د بهير رهبري کميسيون پر غاړه واخيسته او د کميسيون په هڅو حکومت د دې قانون پر بيا اصلاح مجبور شو.

**۵. د تاوتريخوالي د مخنيوي عالي کميسيون، د خاص ميکانيزم په توګه**

ښځو سره د تاوتريخوالي د مخنيوي قانون پينځه لسمه ماده،

**۶. د ادارو په تشکيلاتو، د حکومت په وزارتونو او په خپلواکو دولتي او غير دولتي ادارو کې د جندر واحدونه، د خاص ميکانيزم په توګه**

د ښځو لپاره د ملي کاري پلان پر بنسټ بايد په هر وزارت کې د جنندر يو واحد رامنځته شي. د دې واحد ځيني مسوليتونه، په قانون جوړونه کې د جنسيتي برابرۍ ملاتړ او د هغې د تطبيق څارنه ده. د حکومت نږدې په ټولو وزارتونو او خپلواکو دولتي او غير دولتي ادارو کې دا واحد رامنځته شوی دی.

د پورته مثبتو اقداماتو باوجود، لا هم په هيواد کې د جنسيتي برابرۍ د تحقق او ښځو سره د تبعيض د مخنيوي

په لاره کې ډېرې ننګونې شته، چې غټې ننګونې یې په لاندې ډول دي:

### ۱. د ښځو د حقونو د ملاتړ او څارنې پر بنسټونو د بدو امنیتي شرایطو اغېز

په قانون جوړونه او د قوانینو په تطبیق کې د جنسیتي برابرۍ د ملاتړو او څارونکو جوړښتونو پر وړاندې غټې ننګونې، د امنیتي ناوړو شرایطو او په هیواد کې د افراطیت بهیر له امله د دې بنسټونو اغېزمنېدل دي چې له مخې یې ځینې بنسټونه د خپلو قانوني مسولیتونو په ترسره کولو کې کم فرصت ترلاسه کوي. په یو شمېر دولتي بنسټونو کې له مسولیت څخه د تېښتې روحیه او د اداري فساد حاکمیت د دې بنسټونو په کاري بهیر کې د ستونزو د پیدا کېدو لامل شوی.

### ۲. د قانون د سراسري حاکمیت نشتوالی او د عرف او عنعناتو پر حاکمیت د ولاړو غیر رسمي قضایي رویو شتون

د افغانستان په ډېری سیمو کې حقوقي قضیې او حتا جرمي قضیې، د قومي او سیمه ییزو جرګو او شوراګانو له خوا هواریږي او محکمو ته نه راجع کیږي. په افغانستان کې جګړه او ناامني د دې لامل شوې چې د هیواد ډېری خلک عادلانه محکمو ته د لاسرسي فرصت له لاسه ورکړي. په دې برخه کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون تحقیقات ښیي چې د هیواد په نا امنو ولایتونو کې د نا امنو ولسوالۍ شمېر په زیاتېدو دی او لا ابتدایه محکمې نه لري او خلک عملا ناچاره دي چې غیر رسمي عدلي او قضایي رویې و مني او دا هغه بهیر دی چې د ښځو اوند قضیو ته په رسیدنه کې د تبعیضي چلند احتمال پیاوړی کوی.

### ۳. اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقونو ته د ښځو د برابر لاسرسي محدودیت

په افغانستان کې د سواد کچه ډېره ټیټه ده. له ۱۵ کلونو پورته عمر لرونکو څخه پورته یواځې ۲۴ فیصده خلک باسواده دي (۳۲ فیصده نران او ۱۳ فیصده ښځې).

په افغانستان کې په اقتصادي فعالیتونو کې د ښځو او نرو ګډون ډېر تفاوت لري. د کار په بازار کې، نږدې نیمې ښځې چې د کار عمر لري (نږدې ۴۷ فیصده) د ښځو او نرانو برابري د بوختیا په انتخاب کې ښکته ده. په افغانستان کې کلیه ای برداشت دا دی چې د کور کارونه د ښځو پر غاړه او له کوره د باندې کارونه د نرانو دي. په نتیجه کې یې یو شمېر ښځې چې د کور له کارونو سره بل کار هم کوي ډېری مهال په داسې کارونو بوخت دي چې زنانه ګڼل کیږي. دا دندې لکه، قالینې اوبدل، د غذایي موادو تولید، سینګار، لاسي کار، د سبرۍ او میوو تولید، زراعت او مالداری او د نجونو په ښوونځي کې تدریس، دي. خو بیا هم هغه ښځې چې د کور په کارونو بوختې دي له هغو ښځو بیخي ډېرې دي چې له کوره د باندې کار کوي.

څه وخت مخکې د افغانستان جمهوري ریاست اعلان وکړ چې ۳۳ فیصده معلمان په ټول هیواد کې ښځې دي او د ښځو قاضیانو شمېر ۲۴۰ ته رسیږي. ۳.۵ میلیونه نجونې په افغانستان کې د ښوونځي او مدرسې د دورې په زده کړو بوختې دي. د افغانستان معارف وزارت اعلان کړی چې د دې وزارت د شمېرو پر بنسټ په افغانستان کې شاوخوا اته نیم میلیونه زده کوونکي، ۱۷۰ زره ښوونکي او شاوخوا ۱٦ زره ښوونځي موجود دي. د پوهنې وزارت کارکوونکي هم له ۹۲ زرو څخه زیات دي. په پلازمېنه کابل کې ۷۸ فیصده ښوونکي ښځې دي. په دې رپوټ کې راغلي چې ۱۳۰۰ ښځې د دې هیواد د پولیسو په ځواکونو کې خدمت کوي او دوه زره ښځې هم د هیواد امنیتي ځواکونو غړې دي. په ټول افغانستان کې ۳۷۰۰ ښځې ډاکټرانې موجودې دي او ۸۰۰ خصوصي اقتصادي فعالیتونه د ښځو له خوا رهبري کیږي.

د هغو شمېرو پر بنسټ چې د افغانستان جمهوري ریاست وړاندې کړې دي د افغانستان د پوهنې وزارت ۲۸

فيصده کارکوونکي هم ښځې دي. څلور ځواني نجونې هم د ملي ارکستر مشرانې دي او سلگونه مېرمنې په بين المللي ميدانونو کې د افغانستان به استازولۍ لوبو کې برخه اخلي. په محلي کچو کې هم د هيواد له پراختيايي واحدونو څخه ۳۵فيصده يې ښځې رهبري کوي چې د ولسواليو په کچه دغه شمېرې ۳۳ فيصدو ته کمېږي. د ولايت په کچه د ښځو د چارو ۳۲ رياستونه د ښځو په لاس کې دي. په ملي کچه ۲۸ فيصده چوکۍ په ولسي جرگه کې د ښځو په واک کې دي او د مشرانو جلگې ۱۷ چوکۍ هم ښځو ته ځانگړې شوې دي. د ولسي جرگې له ټولو ۲۴۹ استازو څخه ٦۹ تنه يې ښځې دي

د کار او روغتيا په برخو کې هم د دولتي ارگانونو شمېرې او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون موندنې ښيي چې د کارکوونکې ښځې له همغې لومړۍ لحظې چې د کار بازار ته داخلېږي له ډېرو ستونزو سره مخامخيږي. کارکوونکې ښځې په دې باور دي چې له واسطې پرته نه دي توانېدلې چې د خوښې وړ کار ته وگمارل شي.

## ٤. سياسي او مدني فرصتونو ته د ښځو په برابر لاسرسي کې محدوديت

سره له دې چې د کار قانون او د دولت د مامورينو قانون د ښځې او نر په استخدام کې مساوي فرصتونه په نظر کې نيولي دي او د حکومتدارۍ په ټولو کچو کې په انتخابي او انتصابي بنسټونو کې ۳۰٪ د ښځو د گډون زياتوالی، تر ۲۰۲۰ کال پورې د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژۍ له مهمو موخو څخه و، خو لا هم ښځې د خپلو سياسي اا‌و مدني حقونو څخه په گټې اخستنې کې له ډېرو ستونزو سره مخ دي.

سره له دې چې د ټاکنو قانون د ټاکلو او ټاکل کېدلو له حق څخه د مساوي گټې اخستنې فرصتونه د ښځو لپاره تضمين کړي دي، خو د افغانستان په سنتي ټولنه کې د بنسټي شويو منفي ليدلوريو او باورنو څخه را ټوکيدلي محدوديتونه د دې باعث کيږي چې ښځې و نه کولای شي له دې تضميناتو څخه په ښه توگه گټه واخلي.

د جمهوري رياست، ولايتي شوراگانو او ولسي جرگې د ټاکنو پروسې په دواړو دورو کې د دې ښکارندويي کوله، چې په سياسي مسايلو کې د گډون په چاره کې د ښځو د علاقه مندۍ سره سره، ځينې عوامل لکه نرواکې ټولنيزه حاکمه فضا، کورني محجدوديتونه، امنيتي تهديدونه او د ښځو د مالي استقلاليت نشتوالی په ټاکنيزو پروسو کې د ښځو د فعال گډون مانع گرځي.

د کميسيون د گزارش موندنې ښيي چې په ۱۳۹۳ کال په ټاکنو کې د خلکو گډون د پام وړ و، خو له بده مرغه د ښځو مشارکت د نارينه و په نسبت کم شوی دی، د ۱۳۸۳ کال په ټاکنو کې د ښځو د گډون کچه ۴۴٪ او د نرانو ۵٦٪ وه. د ۱۳۸۴ کال په ټاکنو کې د ښځو کچه ۴۱٪ او د نرانو ۵۸٪ وه. د ۱۳۸۸ کال په ټاکنو کې د ښځو د گډون کچه ۳۸٪ او د نرانو د گډون کچه ٦١٪. د ۱۳۸۹ کال په ټاکنو کې د ښځو د گډون کچه ۳۹٪ او د نرانو د گډون کچه ٦١٪ وه، خو د ۱۳۹۳ کال په وروستيو ټاکنو کې د ښځو د گډون کچه ۳٦٪ او د نرانو د گډون کچه ٦۴٪ وه. له تېرو ټاکنو سره د ۱۳۹۳ کال د ټاکنو په مقايسه يي ارزونه کې کولای شو د ښځو د گډون په بهير کې ډېر شفافيت ووينو.

د واده او د زوجينو د حقونو د برابرۍ په برخه کې د عرف او عنعناتو د غلبې له امله اجباري واده او په کم عمر کې ودول د دې حق د ترلاسه کولو پر وړاندې لويې ننگونې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د اساسي قانون ۵۴مه ماده صراحت کوي چې کورنۍ د ټولنې اساسي رکن دی او د دولت د ملاتړ لاندې ده او دولت د کورنۍ د جسمي او روحي سلامتيا د تامين په منظور، په ځانگړې ډول مور و ماشوم، د ماشومانو روزنه او د اسلام د مقدس دين له احکامو سره به ټکر کې رسمونو د له منځه وړلو لپاره لازم تدبيرونه نيسي.

سره له دې چې د قانون د پورته مادې له حکم سره سم تر اوسه يواځې د قانون جوړونې په برخه کې، له ښځو

سره د تاوتريخوالي د مخنيوي قانون تصويب شوی دی؛ خو له بده مرغه په تقنينيه، اجراييه او قضاييه برخو کې لا نور وقايوي او محافظتي تدابير نه دي نيول شوي.

په وروستيو کلونو کې د افغانستان دولت يو له مهمو کارونو څخه د نکاح پاڼې چاپ او په محکمو کې د واده د ثبت فرصت رامنځته کول دي چې په ځينو مواردو کې عملي کيږي. بايد يادونه وکړو چې د واده د ثبتولو الزامي کول او د محکمو له طرفه د رسمي وثيقې صدور يو له هغو مهمو کارونو دی چې بايد دولت يې د زېږېدو، مړينې او طلاق په برخه کې هم ترسره کړي.

**پايله**

په پای کې ويلای شو چې د افغانستان دولت په وروستيو کلونو کې هڅه کړې چې د جنسيتي برابرۍ د پراختيا او ښځو سره د تبعيض د مخنيوي لپاره له بين امللي نظام سره همګام شي او په دې برخه کې يې ځينې اقدامات هم ترسره کړي دي. خو بيا هم او سره له دې چې د افغانستان دولت د اداري ظرفيتونو د رامنځته کولو، په قانون جوړونه کې د جنسيتي برابرۍ د بهير ملاتړ او د د ارګانونو او دولتي او حکومتي بنسټونو له خوا د هغې د تطبيق ملاتړ کړی، خو لا هم په عمل کې جدي ستونزې موجودې دي. په ځانګړي ډول د قانون د تطبيق د بهير د ملاتړ او نظارت اړوند اداري او قضايي بنسټونه او واحدونه د داسې لارې او روش په وړاندې کولو نه دي توانيدلي چې په هيواد کې له قانونه تېښته ودروي او تطبيق يې په سم ډول ضمانت کړي، او له مجازاتو څخه د معافيت فرهنګ لا هم دوام لري.

## د منابعو فهرست


### کتابونه

۱. نوری، عبدالعزیز، حقوق بشر، د کاتب پوهنتون خپرونه، ۱۳۹٤

۲. مهرپور، حسین، نظام بین المللی حقوق بشر، د (اطلاعات) خپرونه، دریم چاپ، تهران، ۱۳۸۷

۳. سرآمد، حسین او نور، عوامل و زمینه‌های تجاوز جنسی و قتل ناموسی در افغانستان، (د ملي تحقیق رپوټ)، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، کابل، ۱۳۹۲.

۴. گیدنز، آنتونی، جامعه شناسی، (۱۳۷۸) د نی خپرونه.

### قوانین

۱. د افغانستان اساسي قانون

۲. د افغانستان مدني قانون

۳. ښځې سره د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون

۴. د اهل تشیع د شخصیه احوالو قانون

۵. د کورنۍ د ملاتړ قانون. دا قانون لا د هیواد د پارلمان له خوا نه دی تصویب شوی او عملاً نافذ نه ګڼل کیږي.

٦. د افغانستان د ټاکنو قانون

۷. د افغانستان د کار قانون

۸. د ملکي خدمتونو د کارکوونکو قانون

۹. د بشر د حقونو بین المللي اسناد چې د افغانستان دولت تصویب کړي دي:

### ستراتیژي پلانونه او رپوټونه

۱. ښځو سره د تبعیض د مخنیوي کمېټې ته د افغانستان مقدماتي او لومړی دوره یي رپوټ

۲. د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون، «نظارت از وضعیت و عملکرد محاکم و سیستم قضایی در افغانستان»، سال ۱۳۹۰

۳. په افغانستان کې د اقتصادي او ټولنیز وضعیت پینځم رپوټ له ۱۳۸۸ څخه تر ۱۳۸۹ کلونه. د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون

٤. د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژي، ۱۳۸۷-۱۳۹۱

### English

1. Shaw, Malcolm N, International Law, Sixth Edition, (Cambridge University Press), 2008

2. Merry, Sally Engle, Human Rights and Gender Violence, (The University of Chicago Press), Chicago and London, 2006

3. Gender Terminology, Ministry of Women's Affair, August 2006 cited in: Training Manual for Trainer.

### ویبپاڼې:

1. http://www2.ohchr.org/english/law/cedaw.htm.

2. https://treaties.un.org